AFGHAN GERMAN ONLINE
افغان جرمن آنلاین
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اڅیر
۲۰۲۴/۰۲/۱۱

# د یهودو عادلانه جګړې

(اتلسمه برخه)



(غزه د اسراییلي دولتي ترهګرو په لمبو کې)

﴿كَلَّا ۖ بَلْ ۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ﴾

**ژباړه: هېڅکله نه، بلکې حقیقت دا دی چې د دغو خلکو زړونه د دوی د بدو کړنو [له امله] زنګ وهلی دي.**

(د قرآن د مطففین سورت: ۱۴ آیت)

**د یهودانو توکم پالنه یا نژادپرستي (۳)**

**د غیریهودانو ورک شوی مال؛ غلا او مریتوب (غلامي)؛ سود اخیستل؛ کرکه او بد رد ویل**

**ورک شوی مال:**

ورک شوی مال چې په هغه کې هر ډول څاروي او نور توکي راځي، د تورات په کتابونو کې اسراییلو ته ښوونه شوي ده چې هغه خپل څښتن ته وسپاري، که هغه د اسراییلو دښمن هم وي. خو یهودي خاخامان د تل په څېر د دا ډول احکامو څخه سترګې پټوي، په تورات کې راځي:**«که د خپل دښمن له ورک شوي غوایي یا خره سره مخ شوې، هغه خپل څښتن ته وسپاره.»** (د هجرت کتاب:۴/۲۳)
«که چېرې دې د چا غوا یا مېږه د سرګردانۍ په حالت کې ولیده نو ته داسې مه کوه چې ګواکې نه مې ده لیدلې، بلکې هغه خپل څښتن ته ورکړه، که د هغې څښتن ستاسو سره ژوند نه کوي او یا یې نه پېژنئ، هغه خپلو پټیو ته ورسوه او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

هلته يې تر هغې پورې وساته چې څښتن يې ورپسې راشي او **هغه خپل څښتن ته وسپاره، په دې قانون کې خر، جامې يا هر څيز چې ومومئ هم شامل دي.»** (د ګردان کتاب:۲۲/۱-۲-۳)
مهمه دا چې د موسی په لسو فرمانونو کې (چې يهودانو ته ډېر اهميت لري) د ګاونډيانو او نورو خلکو د مال او ناموس د خپلولو په هکله داسې ويل شوي دي:
**ـ د نورو ناموس او مال ته تمه مه کوئ.**
**ـ د ګاونډي د مريې، مينځې، غوا، خره، څمکې او مال د ترلاسه کولو په فکر کې مه کيږئ»** هجرت: ۱۵/۲۰- ۱۷)
«د نورو ناموس او مال ته تمه مه کوه.» دغه حکم عام دی ځکه چې څوک په کې مشخص شوي نه دي، د (نورو) مانا (ټول انسانان) دي.
د نړۍ په هېوادونو او اشغالي فلسطين کې د يهودانو د استوګنځايونو ترڅنګ غيريهود «ګاونډيان» هم اوسيږي، د يهودو ګاونډيان له يهودو پرته نور خلک هم کيدی شي.
يهودي مفسرينو د تورات دا ډول آيتونه په ډېر ناوړه توګه تفسير کړي، تر دې چې کټمت يې سرچپه اړولي دي، استاد اسرييل شاهاک وايي چې «که يو يهودی د غيريهودي ورک شوی مال ومومي، د يهودانو تلمود او ټول شرعي منابع نه يوازې دا چې موندونکي يهودي ته اجازه ورکوي چې د غيريهودي مال خپل کړي، **بلکې هغه منع کوي چې موندلی مال خپل څښتن ته ونه سپاري.»** (تاريخ يهود، آيين يهود ... فارسي ژباړه: رضا آستانهپرست. ۱۷۱مخ)

## غلا او مريتوب (غلامي):

غلا کول په ټولو اديانو کې منع ده، په يهوديت کې د موسی په لسو فرمانونو کې په څرګنده او په غوڅ ډول يهودو ته حکم شوی دی:**«غلا مه کوه.»**[1]
په دې مانا چې له هېچا غلا مه کوه، هغه که يهودی وي که غيريهودی خو يهودي خاخامانو په سپينسترګۍ سره دا حکم داسې تفسير کړی چې يهودی بايد له يهودي څخه غلا ونه کړي او د تورات د پنځم کتاب لاندې ښوونې دليل راوړي:
«که چېرې څوک خپل اسراييلی ورور وتښتوي او له هغه سره د يو مريي په څېر چلند وکړي او يا هغه وپلوري نو **دا غل کس بايد ووژل شي** تر څو ستاسو له منځه شرارت پاک شي.» (د ګردن کتاب:۲۴/۷)
يهودان چې خپلې ټولې ناوړه کړنې د غيريهودانو پر وړاندې په ډېر احتياط ترسره کوي او هر هغه عمل چې يهودانو ته خطر په کې رامنځ ته کيږي له هغه څخه لاس اخلي، په تلمود کې راځي:«... هغه غلا چې تاؤتريخوالی رامنځ ته کوي اکيداً منع ده [...] **خو که هماغه عمل د يو يهودي لخوا د غيريهودي په زيان ترسره شي، په رښتيا سره چې نه دی منع.** خو په ځانګړي وضعيت او حالت کې... .» (تاريخ يهود، آيين يهود... فارسي ژباړه: ډاکټر مجيد شريف. ۲۲۴مخ)
پروفيسور اسراييل شاهاک د يهودو د غلاګانو او تښتونو په اړه ليکي چې خاخام ميمونيدس د دغه ناوړه عمل د ترويج په موخه (چې دلته يې د بحث ځای نه دی) يهودانو ته اجازه ورکړه چې **د دين په نوم د غيريهودانو ماشومان د مريتوب (غلامۍ) لپاره وتښتوي** چې د هغه عقيده بې له شکه په هماغه مهال او هم په معاصره زمانه کې عملي شوه.» (هماغه کتاب: ژباړن:رضاآستانهپرست. ۲۱۰مخ)
ومو ولوستل چې د دين په نوم د غيريهودانو څخه په ځانګړو حالاتو کې غلا کول روا عمل دی او د غلامۍ لپاره د ماشومانو تښتول د ثواب کار دی خو د يهودو لخوا د يو اسراييلي غلام کول، د غيريهودانو برعکس کړنې دی:
«که چېرې ستا يو همنژاده اسراييلی بې وزله شو او ځان يې پر تا وپلوره، نو ته بايد له هغې سره د يو مريي(غلام) په غوندې چلند ونه کړئ، بلکې له هغه سره د يو مزدور يا ميلمه په څېر چلند وکړئ، هغه دې يوازې د (يوبيل) کال [اوم کال] پورې ستا لپاره کار وکړي، په هغه کال بايد هغه له خپلو زامنو سره له تا څخه ولاړ شي او خپلې کورنۍ او څمکې ته ورشي. تاسې د يهوه خدای بندهګان ياست او خدای تاسې له مصر څخه بهر کړئ نو تاسو نه بايد په مريتوب (غلامۍ) وپلورل شئ. له هغوی سره په تاؤتريخوالي چلند مه کوه او له خپل خدای څخه وډار شه **خو تاسو اجازه لرئ هغه قومونه چې ستاسو په شاوخوا کې استوګن دي، د مريانو (غلامانو) په توګه وپېرئ همدارنګه کولی شئ، د هغو غيريهودانو (غريبانو) زامن چې ستاسو په منځ کې اوسيږي وپېرئ، تر دې که ستاسو په هېواد کې زيږيدلي هم وي، هغوی به د تل لپاره ستاسو مريان وي او وروسته له تاسو، تاسې کولی شئ خپلو زامنو ته يې ورکړئ** خو له خپلو ورونو، د اسراييلو له قوم سره داسې ډول چلند مه کوئ.» (د لاويانو کتاب:۲۵/۳۹تر۴۶پورې)

---

[1]:(د هجرت کتاب: ۱۵/۲۰- ۱۷)



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

## **له غېریهودانو، سود اخیستل:**

سود اخیستل په اسلام کې ډېر ناوړه عمل بلل شوی دی، په قرآن او د پیغمبر (ص) په سنتو کې د سود په هکله احکام په عام ډول بیان شوي دي، کافر او مسلم نه دی مشخص شوی، داسې چې مسلمان نه شي کولی له کافر سره د سود راکړه ورکړه وکړي. له سودخورو سره الله تعالی او د هغه رسول (ص) پهخپله د جګړې اعلان کړی دی. (قرآن کریم د بقرې سورت:۲۷۹آیت وګورئ.)

خو د یهودو د تورات په کتابونو کې خبره بل ډول ده، په یهودیت کې یو یهودی نه شي کولی له بل یهودي څخه سود واخلي خو یهودو ته په خلاص لاس اجازه ورکړای شوې ده چې له غیریهودو څخه چې څومره کولی شي په زیاته کچه سود ترلاسه کړي، په تورات کې وايي:«که دې د خپل قوم یو اړمن کس ته پیسې پور ورکړې **نو د یو سودخور په څېر چلند مه کوه او له هغه سود مه اخله،** که د هغه جامې دې ګرو کړي وې، وړاندې له لمرپرېوتو یې بېرته ورکړه.» (د هجرت کتاب:۲۲/۲۵-۲۶)

«کله چې خپل اسراییلي ورور ته پیسې، ډوډۍ یا هر ډول پور ورکوئ، له هغه څخه ګټه (سود) مه اخلئ **خو له یو غیریهودي څخه کولی شئ ګټه ترلاسه کړئ،** نه له یو اسراییلي څخه.» (د ګردان کتاب:۲۳/۱۹-۲۰)

«د هرو اوو کلونو په پای کې باید ټول پورونه وبښئ، هر څوک چې پر خپل یهودي ورور پور ولري، باید هغه پور لغوه کړي، هغه باید د خپل پور د اخیستلو هڅه ونه کړي، ځکه چې پهخپله یهوه خدای دغه پور لغوه کړی دی. **خو دا د پور ورکولو قانون د غیریهودانو لپاره نه دی.»** (هجرت:۱۵/۱-۲-۳)

د تلمود خاخامانو بیا له تورات څخه هم له غیریهودانو د سود اخیستل لاپسې سخت کړي، د تلمود په اړونده منابع کې راغي:**«د هر یهودي دیني دنده ده چې له غیریهودانو څخه هر څومره چې کولی شي زیات سود واخلي**... خو که یو یهودی له بل یهودي سود واخلي، له سختې سزا سره مخ کیږي تر دې چې په معامله کې کاتب او شاهد او نور چې په دا ډول غیرشرعي جرم کې برخه ولري مجازات کیږي، تلمود هغوی «منفور او رسوا انسانان» بللي دي، دوی په محکمه کې شهادت نه شي ورکولی... .» (تاریخ یهود، آیین یهود ... فارسي ژباړه:رضاآستانهپرست. ۸۸-۸۹مخ)

## **کرکه او بد رد ویل:**

د یهودانو شر او فساد نه یوازې پر ژوندیو انسانانو پورې محدود پاتې شوي دي، بلکې د غیریهودانو مړیو، مړیستنونو او ودانیو ته هم په سپک نظر ګوري، که نور څه یې له وسه نه وي پوره نو پټه خوله ښکنځلې کوي او د زړو ښځو په څېر ښیراوې کوي، د یهودانو په تلمود کې وايي چې **«کله چې یو یهودی د غېریهودانو یوه ډله ویني نو باید چې پر هغوي باندې لعنت ووايي** خو که د یو یهودي سترګې پر یوه ډله یهودانو ولګیږي باید د نېکۍ او نېکمرغۍ دعا ورته وکړي. **هغه مهال چې یو متدین یهودی د غیریهودانو له مړیستنو څخه تېریږي بایده دي چې پر هغو مړیو لعنت ووايي** خو که د یهودانو پر مړیستنو باندې ورشي نو باید د هغوی لپاره له خپل خدای [یهوه] څخه د ښښنې غوښتنه وکړي. **هر یهودی چې د غیریهودانو له یوې لوړې ودانۍ څخه تېریږي نو له خدایه دې وغواړي چې هغه ودانې ورانه او ویجاړه کړي، که چېرې د غیریهودانو ودانې ورانه شوې وي نو د خدای شکر دې پر ځای کړي چې له هغه یې غچ اخیستی دی.»** (اسراییل شاهاک: تاریخ یهود، آیین یهود (سابقهٔ سههزار ساله) فارسي ژباړه: رضا آستانهپرست. ۱۷۸مخ)

**«کله چې یهودان د عیسویانو کلیسا یا یو صلیب ویني نو د یهودانو د دیني کړنلارې پلې کولو پر موخه باید درې ځله د خولې لپاره تو کړي.»** ځیني وختونه د سپیڅلي کتاب [تورات] توهینوونکي آیتونه هم پرې لولي لکه دا آیت:«ته باید په رښتیا سره له هغه کرکه وکړئ او ته باید په غوڅه توګه له هغه څخه لرې ووسئ ځکه چې هغه ملعون څیز دی.» (هماغه کتاب: فارسي ژباړه: رضاآستانهپرست. ۱۷۹مخ)

یهودي خاخامانو د عیسویانو صلیب او عبادتځای (کلیسا) له بتانو سره پرتله کړي دي چې د تورات د تثنیه کتاب پورته آیت یې په غلط ځای کې کارولی دی، د نوموړي آیت اصلي ژباړه داسې ده:«خپل کور ته بُت مه وړئ، هماغه لعنت چې پر هغه شوی دی پر تاسو به هم وشي، له بُتانو کرکه وکړئ، ځکه چې پر هغه لعنت شوی دی.» (ګردان:۷/۲۶)

پوهیږو چې یهودانو ته خپل ځانونه پیاوړي او هوښیار خلک ښکاري او تل پر نورو انسانانو ځانونه لوړ بولي، یهودان په خپلو دعاګانو کې له خپل ځانګړي خدای یهوه څخه مننه کوي چې غیریهودان یې نه دي پیدا کړي. چې د دوی دا ډول ګروهه د دوی لویه ناپوهي څرګندوي، نه یوازې دا چې یهودان باید له غیریهودانو څخه ځانونه لرې وساتي، سربېره پر هغو بې شمېره ناوړه تورونو چې پر غېریهودانو یې لګولي، هغوی یې مورزادي درواغویونکي هم بللي دي، دا پر یهودانو فرض ده چې باید د غیریهودانو **«پر چالچلند او د دوی پر لباس پورې بد رد ووايي.»** (هماغه کتاب. فارسي ژباړه رضا آستانهپرست. ۱۸۴مخ)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

«مؤمن او مخلص یهودی د سهار په دعاګانو کې له خپل خدای [یهوه] څخه شکر پرځای کوي چې هغه دې غیریهودي نه پیدا کړی.»

همدارنګه د نوي کال په لومړی ورځ د (یوم کیپور) په دیني مراسمو کې یهودان وایي چې**«باید له خدایه شکر وکړو چې موږ یې د نورو خلکو په څېر نه یو پیدا کړي** [...] ځکه چې هغوی د غرور او نیستۍ پر وړاندې سرونه ټیټوي، هغه خدای لمانځي چې هېڅ مرسته نه شي ورسره کولی.» (هماغه کتاب. فارسي ژباړه: ډاکټر مجید شریف. ۲۲۹مخ)

لکه وړاندې مو چې ولوستل، د تورات په کتابونو کې د غیریهودانو په هکله ډېرې سپکې‌سپورې او ناانساني څرګندونې شتون لري چې یهودي مفسرینو (خاخامانو) دا ډول څرګندونو ته لا نور ښاخونه او وزرونه ورکړي دي چې له هغو څخه د خوراک او څښاک په برخه کې د هغه مردار شوي څاروي غوښه چې حلال (ذبحه) شوی نه وي، یهودان یې په‌خپله نه خوري خو د خپلې مالي ګټې او غیریهودانو ته په سپک نظر د کتلو له امله هغه پر غیریهودانو پلوري:**«هغه څاروی چې په طبیعي مرګ مړ شوی وي، ونه‌خورئ، هغه هغو غیریهودانو (غریبانو) ته ورکړئ چې ستاسو په منځ کې اوسېږي چې ویې خوري او یا یې پر غیریهودانو باندې وپلورئ** خو تاسو یې ونه‌خورئ ځکه چې تاسې د خپل خدای یهوه پر وړاندې سپیڅلي یاست.» (د ګردان کتاب:۲۱/۱۴)

پوهېږو چې په اسلامي شریعت کې شراب حرام دي او په طبي لحاظ هم زیان‌اړوونکي دي، یهودانو همدا حرام څیز له مسلمانانو، مسیحیانو او نورو وګړو څخه پاک بولي خو چې کله د یو مسلمان لاس پرې ولګېږي هغه شراب د یهودو لپاره مرداریږي:«یو یهودی هېڅکله هغه شراب باید ونه څښي چې غیریهودی په هره کچه چې وي، د هغې په جوړولو کې لاس ولري، د یهودي په لاس جوړ شوي شراب چې په یو سرخلاصي بوتل کې اچول شوي وي او د غیریهودي لاس پرې ولګېږي او یا یې لاس ورننږدې کړی وي، پر یهودانو د هغې څښل منع دي. په دې اړه د یهودي ربیانو (خاخامانو) دلیل دا دی چې: **غیریهودان نه یوازې دا چې ټول کافران دي بلکې له آره باید بد او شوم هم وشمېرل شي**... هغه شراب چې د یو مسیحي لخوا لاس وروړل شوی وي باید لرې وغوځول شي خو که د یو مسلمان لاس پرې لګېدلی وي نو هغه وپلورئ یا یې چا ته ورکړئ خو یو یهودی نه شي کولی هغه وڅښي.» (تاریخ یهود، آیین یهود... فارسي ژباړه: رضا آستانه‌پرست. ۱۸۰مخ)

Kommentiert [P1]:




نېټه:۱۴۰۲/۱۱/۲۱ل. ل

**نور بیا**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ